پښتو لیکدود

راشئ چې پښتو لیکنه تصحیح او معیاري کړو!

حکمتیار

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو ليکدود

راشئ چي پښتو ليکنه تصحيح او معياري کړو!

حکمتيار

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

سريزه

لکه څنګه چي د پښتنو د هري سيمي، قبيلې او حتی د هري درې د اوسېدونکو ژبه له نورو توپير لري، همدا راز پښتو واحد او ټولو پښتنو ته منلی ليکدود هم نه لري، مروج ليکدودونه ئې ډېري ستونزي لري، له ګاونډيو ژبو سره ئې نه د واحد ليکدود له پلوه مقايسه کولی شو او نه د واحد ويندود له پلوه، عربي، فارسي او اردو په بېلو بېلو هېوادو کي هم ګډ او ټولو ته منلی ليکدود لري خو پښتو له دې پلوه ډېره وروسته پاتې ده، ډېر کار ته ضرورت دئ چي پښتو ليکدود او ويندود ملي او ټولو پښتنو ته مقبوله بڼه غوره کړي، د اوسني پر پشانه حالت دلايل ئې روښانه دي چي دلته ئې د څېړلو ځای نه دئ، يوازي دومره بايد ووايو چي ژبه هغه مهال له داسي تفرق او د نورو ژبو له اغېزه ژغورل کېږي، قومي بڼه ئې په ملي بڼي بدلېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویونکي ئې په یوه لیکدود او ویندود متحد کېږي چي ځواکمن او ملي حکومت ئې ترشا وي، د هېواد تعلیمي او درسي نصاب ترې جوړ او د خبري رسنیو او رسمي اداراتو ژبه شي، پښتو تر ننه دا سعادت نه دئ ترلاسه کړی، پښتانه له یوې خوا تل د بهرنیو د عسکري تېریو مقابلې ته اړ شوي او له بلي خوا تر فرهنګي یرغلونو لاندي پاته شوي، خوا ته ئې د پاکستان او ایران په څېر دوه ځواکمن حکومتونه وو چي یوه ئې اردو او بل ئې فارسي ته کار کړی او پر نورو ئې خپله ژبه مسلطه کړې. همدا وجه ده چي په پښتونخوا کي د پښتنو زامن په ځانګړې توګه هغه چي په پاکستاني سکولونو کي سبق وايي پښتو ئې نیمايي له اردو او انګریزي جوړه وي، د هرات ډېری پښتنو قومونو خپله اصلي ژبه په بشپړه توګه هېره کړی، هرات د غلزیو ټاټوبی وو، په سلو کي تر اویا زیات مېشت قومونه ئې پښتانه ول او په پښتو ئې خبري کولې، خو اوس چي له چا پوښتنه وکړې: د کوم قوم یې؟ وايي به چي پښتون، اسحاق زی یم، خو په پښتو به خبري نشي کولی، د کندهار له پښتنو به واورې چي وايي: د سیب درختي سایې ته ناست وم!! وجه ئې دا ده چي پر هرات او کندهار څه موده ایرانیانو حکومت کړی. هر قوم چي پر یوې ټولني له سیاسي، فکري، اخلاقي او اقتصادي پلوه مسلط شي؛ ژبه ئې هم د نورو قومونو پر ژبي سیوری وغوړوي، انګریزانو امریکا اشغال کړه، پرېکړه ئې وکړه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیک لوست به په انګرېزي وي، دا دئ درې پېړۍ وروسته د امریکا د ټولو اصلي قومونو ژبې په پشپړه توګه له منځه تللې، د وروستۍ ژبې وروستی ویونکی ئې سږکال (۲۰۰۸) ومړ او په دې توګه د اصلي امریکایانو ټولي ژبې له منځه ولاړې.

متأسفانه اوس نه یوازي په کلیواله کچه د پښتنو لهجې بېلي بېلي دي بلکي په لوستو پښتنو کي هم یووالی نه مومو، نه د وینا او لهجې یووالی او نه د لیکدود یووالی، د مشرقي ساحې لیکدود د جنوبي او جنوب غربي ساحو له لیکدوده توپیرونه لري، دا اختلاف باید ختم شي، د پښتو لیکدود باید معیاري او توحید شي، چارواکي، مشران او لیکوالان باید دې ستونزي ته توجه وکړي، د ملي یووالي لپاره ضروري او اړینه ده چي ملي ژبه ولرو، خو دې ته په پام سره چي د ژبې د یووالي او معیاري کولو هڅه د قومي او ژبني تعصباتو راپارولو باعث نشي، موخه مو یووالی او د اختلافاتو ختمول وي نه یو قوم او ژبه ئې پر نورو تحمیلول، ځیني کړۍ د سیاسي موخو لپاره د ژبې په اړه داسي څه وایي چي ژبني تعصبات راپاروي، یوه پر بلي غوره او لرغوني ګڼي، په داسي حال کي چي د ټولو انساني ژبو بنسټ یو دئ، هیڅ ژبه پر بلي تفوق نه لري، لکه څنګه چي د انسانانو نسل او توکم یو دئ او له یوې جوړې مور او پلاره پیدا شوي، همداسي ئې ژبه هم په سر کي یوه وه او د خاصو عواملو په وجه سره بېلي شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په دې موخه چې پښتو ليکدود او ويندود له اوسني پرېشانه حالته ووځي ټولو هغو پښتنو ليکوالو ته ځو وړانديزونه لرم چې د يووالي او وحدت هڅه کوي او غواړي چې د پښتو ليکدود معياري، متفق عليه او ټولو ته د منلو وړ شي. که څه هم دا کار تر هغه نتيجه نه ورکوي چې پښتو په واقعي معنی ملي او رسمي ژبه شي، په راډيو، ټلويزيون، چاپي خپرونو، تعليمي مؤسساتو او رسمي اداراتو کي د ملي ژبي په توګه وکارول شي، تر اوسه متأسفانه په افغانستان کي پښتنو دا حق هم نه دئ ترلاسه کړی چي زامن ئې په مکتبونو او پوهنتون کي په خپلي مورنۍ ژبي ليک لوست وکړي، خو دا تشه بايد ډکه شي او پښتو له اوسني پرېشانه حالته بايد وايستل شي.

زه په دې اړه څه وړانديزونه لرم چي د دې مختصري رسالې په ترڅ کي ئې د بااحساسه او دردمندو ليکوالو مخي ته ږدم، اميد دئ په دې سره ځيني هغه ستونزي حل شي چي پښتو ليکدود همدا اوس ورسره مخامخ دئ.

حکمتيار

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو حروف

د پښتو او فارسي حروف له عربي اخيستل شوي، فارسي څلور حروف (پ، چ، ژ او گ) پرې علاوه کړي او (ة) ئې ترې ایستلې، او په پښتو کې په دې څلورو برسېره نور هم پرې اضافه شوي چې ټول ئې دا دي: (ټ، پ، چ، څ،ځ، ډ، ړ، ژ، ږ، ښ، گ، ګ، ڼ، ې، ی)

تاسو ته معلومه ده چې عربي حروف له دغو علایمو(َ ، ِ ، ُ ، ً ، ٌ ، ٍ ، ~، ْ ، ٰ) پرته ناقص دي، په عربي کې دا علایم د حروفو ډېره ضروري برخه ده، مونږ د دغو علایمو د نه رااخیستلو په وجه ناقص حروف کاروو، مونږ نه یوازې (زور، زېر، پېش :َ ، ِ ، ُ ، ته ضرورت لرو بلکې تنوین ً ته هم ضرورت لرو ځکه د عادتاً، حتماً او قطعاً په څېر هغه الفاظ چې مونږ له عربي رااخیستي له دغه علامې پرته ناقص دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداراز موږ له دغو علایمو علاوه د زېرکي او زورکي په څېر علایمو ته هم اړ یو، د نه کارولو په وجه ئې له ګڼ شمېر ستونزو سره مخامخ یو، د مثال په توګه (لور، سور، سر) د تورو د حرکت له مخي څو بېلي بېلي معناوي لري، لکه: (لور: نجلۍ)، (لور: د رېبلو وسیله)، (لور: طرف) او (لور: پېرزوینه)، (سور: سور رنګ)، (سور: سپور)، (سور: عرض)، (سور: څښل)، (سر: کوپړۍ)، (سر: راز)، که لوستونکی دا الفاظ له جملې بهر وګوري نه پوهېږي چي کومه معنی ترې مراد ده. همداراز دغي نقیصې موږ دې ته اړ کړي یو چي پنځه یې ګاني وکاروو، حال دا چي په حقیقت کي زموږ (ی) یوه ده، بېل بېل غږونه ئې د هغه حرف په حرکت پوري تړاو لري چي تر (ی) مخکي راځي، که مخکنی حرف زور ولري نو (ی) نرمه تلفظ کېږي او موږ ئې په ملینه او نرمي (ی) یا د ځینو په وینا زورکی واله (ی) سره لیکو، لکه: شَی، لرګی، سړَی، منګی... چا چي دې ته د زور واله (ی) نوم ورکړی دې ته نه دئ متوجه شوی چي دا زور د (ی) نه بلکي د هغه توري دئ چي تر (ی) مخکي راځي. دې ته د زورواله (ی) نوم ورکول غلطه نومونه ده.

او که دا مخکنی حرف ساکن واو یا الف وي نو بیا هم همدا نرمه ی کاروو لکه: دوُی، زوُی، ځاُی، بوُی، لوُی،

که زیر ولري نو څرګنده (ي) لیکو، لکه: سړِي، غوړِي، منګِي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

که مخکنی حرف زورکی ولړي نو اوږده (ې) لیکو، لکه: شپې، خوږې، لندې، دې، شې، سړې...

او که تر یې مخکې حرف زېرکی ولري نو د ښځینه نومونو لپاره لکۍواله (ۍ) لیکو، لکه: کړکۍ، لونګۍ، مړۍ، او د نورو لپاره همزه واله (ئ) لیکو، لکه: راځئ، وخورئ، ورشئ، وکړئ... دلته تر (ی) مخکې توری، زورکی نه بلکې زیرکی لري.

که موږ دا علایم درلودی او هغه مو کارولی نو د یاګانو د کارولو په سر به له لانجو سره مخامخ نه وو، د مثال په توګه: د ښځینه نومونو په جمعې که به مو دا ستونزه نه درلوده چې ځیني د (ښځه) جمع (ښځې) او ځیني ئې (ښځي) ګڼي، خو نه دا د خپلې ادعاء لپاره څه دلیل وړاندې کوي او نه هغه، ټول هغه کلمات چې تر یې مخکې توری ئې زیر ولري باید په څرګندې (ي) سره ولیکل شي، لکه: چي، کي، مي، ځي، خوري، ښځي، لنډي، کونډي، منډي، سړي، کوي. او ټول هغه کلمات چې تر یې مخکې حرف ئې زورکی ولري باید په اوږده (ې) ولیکل شي، لکه: څپې، مڼې، لندې، خوږې، ترخې، سړې، تودې، ته راځې، خورې، ته ښه سړی یې،... ، دغه مطلب ته د نه پام کولو په سبب ځیني خلک د اوږده (ې) په کارولو کي ستونزه لري، چي، کي، مي، .... د چې، کې، مې... په څېر لیکي، په داسي حال کي چي د پښتنو ټول قبایل په دغو کلماتو کي له یا نه مخکي توری په

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیر سره تلفظ کوي، او اصولاً په کار ده چې په (ي) ولیکل شي.

انګریزي هم د علایمو د نشتوالي په وجه د (ی، و) په اړه ستونزي لري، د همدې لپاره ئې ګڼ شمېر (ی) او (و) ته ورته غږ لرونکي حروف جوړ کړي، لکه (A,E,I,Y) او (O,U,W,V) څوک چې د لومړي ځل لپاره د انګرېزي لیک زده کوي د دغو حروفو د لیکلو د ځای په اړه همداسي ستونزه لري لکه د پښتو په لیکلو کي چي ورسره مخامخ کېږي.

فارسي هم دا ستونزه لري، د علایمو د نه انتقال په سبب د (ی) او (و) د کارولو په ارتباط مشکلات لري، د مثال په توګه (سیر) څلور معناوي لري، سیر: موړ، سیر: اوږه، سیر: سفر، سیر: من، - شیر او شیر دوه معناوي لري شیر: شیدې او شیر: زمری، دا د یوې ژبي د لیکدود ستر عیب دئ چي د ګڼ شمېر مختلفو معناوو درلودونکو کلماتو لپاره ورته توري وکارول شي، دا لوستونکي له التباس سره مخامخوي، که په فارسي کي دا علایم کارول کېدی نو دا به ئې داسي لیکل: سُیر، سِیر، سَیر، سُیر او شِیر، شُیر

په دغو څلورو ژبو کي د انګریزي لیکدود تر ټولو ناقص او ستونزمن دئ، نه یوازي له دې پلوه چي د یوه غږ لپاره ګڼ شمیر توري لري بلکي له دې ناحیې هم چي ډېر ځله په کلماتو کي داسي توري کارول کېږي چي نه تلفظ کېږي، لکه په RIGHT کي GH، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

RIGHT دقیق تلفظ د RITE په توګه دئ، همداراز د ډېرو غږونو لپاره ځانګړي توري نه لري، لکه، خ، ع، غ، ژ، ش، چ؛ دې ته ئې مرکب توري جوړ کړي: JK ,GH ,KH فارسي هم دا ستونزه لري، د ټ، ډ، ړ لپاره توري نه لري، د پښتو او انګریزي کلماتو په تلفظ کي له ستونزو سره مخامخ کېږي. انګریزي له دې پلوه هم یوه ستونزمنه ژبه ده چي له مصدر نه اشتقاق ئې ډیري بې قاعده ګڼ لري، د مثال په توګه: له make، نه made, made، له go نه went, gone، له do نه did, done او دې ته ورته بې شمېره نور نواقص.

په پښتو کي تر ضرورت زیات الفاظ جوړ شوي، د س، ص، ث، تر څنګ ئې ځ او د ز، ذ، ظ او ض تر څنګ ئې ځ هم رااېستلي، ځیني ګ او ځیني ګ کاروي، همداراز په پښتو لیکدود کي ی او ئ د ورته غږونو لپاره کارول کېږي، د دغو حروفو زیاتول مخصوصاً د (ګ، ځ، ی) نه یوازي غیر ضروري کار وو بلکي پښتو لیکدود ئې ستونزمن کړی.

د یې ګانو ستونزه

دا ستونزه حل کړو چي د پښتو (یې) یوه ده که پنځه؟ چي د اوږده یا مجهوله (ې)، لنډه یا ځرګنده (ي)، زورواله یا نرمه (ی)، او زورکی واله او لکۍ واله (ۍ، ئ) یا لکۍ واله او همزه واله (یې) په

(c) ketabton.com: The Digital Library

نامه یادېږي.

که یوه وي ولې ئې په پنځه ډوله لیکو؟ که پنځه وي؛ هره یوه ئې چېري او څنګه راځي؟ د کومي قاعدې مطابق که نه هسي د تعامل او دود له مخي؟ او داسي چي د هري (ی) اړوند کلمات باید حفظ کړو، چي دا یقیناً ګران کار دئ، په ځانګړې توګه هغو خلکو ته چي نوې پښتو زده کوي.

ما په دې اړه د ځینو لیکوالانو کتابونه ولوستل، د هغو هم چي د (ی) د ځای او ډول په اړه په خپلو کي سخت اختلاف لري، خو هیڅ یوه ئې د کومي قاعدې یادونه نه وه کړې. دا په داسي حال کي چي هره ژبه ځانګړي قواعد لري، الله تعالی انسان داسي پیدا کړی چي د خپل زړه خبرې په الفاظو سره بیان کړي، الفاظ د قاعدې مطابق جوړ کړي، او د الفاظو لپاره حروف وضعه کړي، د ژبپوهني د بحث یوه اساسي موضوع دا ده چي دا قواعد په ګوته کړي او له دې لاري د ژبي زده کول او لیکل آسانه کړي.

که په پښتو کي د (ی) د کاروني په اړه لږ دقت وکړو راته جوته کېږي چي د (ی) غږ او ډول د هغه توري په حرکت پوري تړلی دئ چي تر (ی) مخکي راځي، که دا حرف زور ولري، د (ی) تلفظ یو ډول وي، که زېر ولري بل ډول، که ساکن وي یو ډول او که زېرکی ولري بل ډول، د همدې لپاره موږ دې ته اړ شوي یو چي د دغو بېلا بېلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

تلفظونو لپاره د (ی) بېل بېل ډولونه جوړ کړو.

په عربي کي د اوږده (ې) مثالونه لږ دي، د قرآن په یوه آیت کي

ئې هم بېلګه راغلې، د هود د سورې په ۴۱ آیت کي د $g1ûC لفظ

راغلی؛ ’ĥ bĵ $g8™ëår $g1ûC « $ Éóî $kŽi (qçŸ2 ö$ A$%r

ÇÍÈ ›Ïm§ Öqãó9

تر (ی) مخکي توری (ر) او تر (ر) لاندي یوه وړه داېره کښل

شوې او دا دائره ښیي چي دلته د (ر) پر سر زور نه بلکي زورکی دئ،

او د همدې په وجه باید د (ي) تلفظ د پښتو د اوږده (ې) په څېر وي.

اردو او فارسي هم د مجهولي يې غږ لري، په اردو کي دا(ے)

ورته راوړي او په فارسي کي خاص توری ورته نه دئ غوره شوی. په

(می شود) کي د (ی) غږ د مجهولي يې غږ دی او په رفتی کي د

معروفي (ي) خو په فارسي کي دواړه په یوه (ی) لیکل کېږي.

د (و) شکلونه

په دې وروستیو کي ځینو لیکوالانو دا لانجه هم راولاړه کړې

چي وايي د پښتو (واو) یو نه بلکي درې دي (اوږد، لنډ او بېواکه)!! او

دا یقیناً چي یوه غلطه انګېرنه ده، پښتو یوازي یو واو لري، اوږد او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډ ئې ویل د هغه توري په حرکت پوري مربوط دی چي تر واو مخکي راځي؛ لکه لُور او لور، په لومړي کي لام پېش لري او واو ساکن دئ، او په دوهم کي پيش په واو اړول شوی، د لور اصلي ليکنه (لُرْ) ده چي د لام د پېش په ځای واو ليکو. د لور او لور تر منځ فرق په واو پوري نه دئ تړلی د (ل) په حرکت پوري تړلی دئ، که لام ته پېش ورکړو نو لُور (د رېبلو آله) ترې جوړېږي، او که پېش په واو واړوو لور (ښځينه اولاد) ترې جوړېږي، سُور او سور، په لومړي کي سين پېش لري او واو ساکن دئ، او په دوهم کي د پېش په ځای واو راغلی، اصلي بڼه ئې سُرْ د پُر په څېر ده، سُور د فارسي دور ته ورته او د فارسي دُر د سور په شان دئ. دا غلطي ده چي دُرخانۍ او آدم خان د دورخانۍ او ادم خان په بڼه وليکل شي.

انګليسي هم درې (ی) لري: E,I,Y او A هم ډېر ځله د يې په توګه کاروي، همداراز د واو لپاره څلور توري O,U,W,V، دوی ته هم دغو تورو ستونزي راولاړي کړې، څوک چي دا ژبه نوې زده کوي نو په ليکلو کي تر هغه په وار وار غلطېږي چي د هري کلمې ترکيب حافظې ته وسپاري. او همدا د يوې ژبي د ليکدود عيب دئ، ښه ليکدود هغه دئ چي ليکونکی ئې له دغي ستونزي سره مخامخ نشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د علايمو په اړه وړانديز

د علايمو په اړه زما وړانديز دا دئ چي لږ تر لږه د پښتو د سم ليکلو لپاره د زده کړي په پيل کي دا علايم زده کوونکو ته وروښيو، تر څو پوه شي چي چېري کومه يې وليکي. دا ضروري نه ګڼم چي اوس او د يې ګانو له ترويج نه وروسته له يوې پرته نوري ټولي حذف کړو، البته د لکۍ والي يې په اړه مي وړانديز دا دئ چي د دې حذفول غوره دي، پر ځای ئې همزه واله (ئ) کارولی شو، د دواړو غږ ورته دئ، دا به له يوې خوا د يې ګانو شمېر راکم کړي او له بلي خوا به دا ستونزه حل کړي چي کله لکۍ واله (ۍ) د لفظ په منځ کي راځي نو نه پوهېږو چي په کومي (ی) سره ئې وليکو، د مثال په توګه (نړۍ وال) څنګه وليکو؟ دا د پښتو ليکدود يوه بله لانجه ده، ځيني ئې په اوږدې (ې) بدلوي چي دا اشتباه ده، اوږده يې د (ۍ) غږ نه ورکوي، نړۍ وال د نړېوال په توګه ليکل غيرمعياري او ناسمه ليکنه ده، د نړيوال په توګه ئې ليکل هغه مهال صحيح ګڼل کېدی شو چي د پښتو (يې) يوه وی، دا دواړه يې (ې) (ي) د (ۍ) غږ نشي افاده کولی، دې (ۍ) ته نږدې او ورته غږ د همزه والي (ئ) دئ، د (کوئ او نړۍ)، (شړۍاو شړئ) په لفظونو کي دواړه يې ورته غږ لري، که غواړو چي ليکنه مو غږ په دقيقه توګه تمثيل کړی شي؛ نو ړکار ده چي يا ئې بېل بېل (نړۍ وال)

(c) ketabton.com: The Digital Library

وليکو او که ئې ګډ ليکو نو د نړئوال په توګه ئې وليکو، که موږ علايم درلودی؛ دا لانجه هم مخي ته نه راتله، (ړ) ته د يوه زېرکي په ورکولو سره به مو نړيوال د نړۍ وال په توګه تلفظ کاوو. چا چي دا لکۍ واله (ۍ) رايج کړې پښتو ليکدود ئې لانجمن کړی، کاش اوس ليکوالان په دې توافق وکړي چي دا (ۍ) په بشپړه توګه له منځه يوسي او په ځای ئې (ئ) وکاروي.

عربي حروف حذفول

ځينې ناپوه او متعصب کسان هڅه کوي چي له پښتو نه د (آ، ث، ص، ط،ظ، ع، ف، ق، ء،) حروف وباسي، دا نه يوازي ناسم کار دئ بلکي له پښتو سره لويه جفا ده، په دې حروفو سره پښتو غني شوې او په حذفولو سره ئې له سختو ستونزو سره مخامخ کېږي، موږ د عربي بې شمېره لغات خپل کړي، ځيني ئې دومره عام شوي چي د پښتو اړوند لغات متروک شوي او ځای ئې دوی نيولی، صبر، طرف، ثواب، عالم، آدم، ظلم، يتيم، زکات، خيرات، قلم، فرق، .... ئې بيلګي دي، دوی دې ته پام نه کوي چي آخوا، آسمان، آخرت، آخوند، آرام... په داسي غږ پيل کېږي چي آ ئې افاده کولی شي، نه يوازي الف دا غږ په دقيقه توګه افاده کولی شي او نه ها.

د فارسي ژبي يوه ستونزه دا ده چي (ټ) او (ډ) نه لري، دې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړه ده چي دا تشه ډکه کړي، هغه دخیل کلمات سم نه شي ادا کولی چي د دې حروفو اړوند غږونه په کي وي. انګلیسي هم د ځینو غږونو لپاره توري نلري، خو دا ستونزه ئې په دې سره حل کړې چي دغو غږونو ته ئې جوړه حروف رامنځته کړي، لکه د (غ) لپاره gh د (خ) لپاره kh د (ژ) لپاره jh دا سمه نده چي موږ هغه حروف حذف کړو چي د پښتو د کلماتو د سمي افادې لپاره ضروري دي.

د پښتو الف یو دئ که دری؟

د پښتو ځیني ادعائي خدمتګارانو د الف په اړه هم یوه ستونزه راولاړه کړې او موږ ئې له دې پوښتني سره مخامخ کړي یو چي پښتو څو الفونه لري؟ یو که درې ؟ آیا زور، زورکی او مد د الف په نامه یادولی او د الف پر ځای کارولی شو؟ آیا له مد او همزه نه پرته د پښتو توري بشپړ ګڼلی شو؟ نه یوازي د پښتو او فارسي حروف له عربي اخیستل شوي، بلکي د فارسي کلماتو نږدې اویا اتیا په سلو کي عربي دي، او پښتو هم دې ته ورته، موږ همزه او مد ته همدومره ضرورت لرو لکه الف ته، آدم، آسمان، آلو، آس له مد نه پرته لیکل غلط دي، همداراز دعاء، اعتناء، علماء، او دې ته ورته کلمې له همزه پرته لیکل غلطي ده، متأسفانه ځیني خلک دا اشتباه کوي چي پښتو لیکدود ته داسي بڼه ورکړي چي د زور، زېر او پېش ځای الف، يې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

واو ونیسي، همزه او مد حذف کړي، د ف او ق په ځای پ او ک وکارول شي، که د دوی رایه ومنل شي بیا خو به پیسته د پسته په ځای او پاسته د پَسته په ځای لیکو، بیا خو به ناچار په هري کلمې کي ګڼ شمېر الف، يې او واو اضافه کوو، قلم به کالام، صبر به سابار، فراه به پاراه لیکو. دا خلک نه پوهېږي چي د یوې کلمې د توریو تر منځ د ارتباط د څرنګوالي بیانولو لپاره دغو علایمو ته سخت ضرورت دئ، د عربي کمال په دې کي دئ چي دا علایم لري، د همدې لپاره هغه کلمات چي له ورته تورو څخه جوړ شوي په تلفظ کي ئې له هیڅ ستونزي سره نه مخامخ کېږي،او لوستونکی پرې پوه کوي چي څنګه ئې یو ځای یا بېل بېل تلفظ کړي. خو موږ په دې اړه ستونزي لرو. دا دوستان دې ته متوجه نه دي چي د پښتو یوه ستونزه دا ده چې د توریو د حرکاتو لپاره علایم نه لري، او دا هغه څه دي چي عربي ته ئې پر نورو ژبو امتیاز ورکړی، دغه ستونزه د دې باعث شوې چي موږ ګڼ شمېر یاګاني جوړي کړو، او همدا یاګاني موږ له کړاوونو سره مخامخ کړي، په داسي حال کي چي زموږ څنګ ته فارسي او عربي یوازي یوه يې لري، که موږ هم علایم درلودی نو یوه يې راته کافي وه، زموږ يې هم په اصل کي یوه ده، بېل بېل تلفظ ئې په اصل کي تر يې مخکي توري له حرکت سره ارتباط لري، او دا دئ اوس خو ځیني راپیدا شوي او غواړي واو او الف هم د یوه په ځای درې او څلور

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي!! او دې غیرمعیاري او ناسم کار ته ژبي ته د خدمت نوم ورکوي!! ژبي ته خدمت دا دئ چي آسانه کړی شي، د کلماتو ترکیب ئې د قواعدو مطابق کړی شي، لیک او تلفظ سره ورته شي، اضافي توري ونه کارول شي، د بېلو بېلو قومونو لهجې او بېل بېل لیکدودونه ئې توحید شي.

عربي الفاظ

نه له پښتو نه د عربي الفاظو د حذفولو هڅه وکړو او نه ئې په غلطه توګه پښتو ته د رااړولو، په کار ده چي عربي لغات په خپل اصلي شکل کې ولیکو، غصه، معنی، صحیح، صلح، خفه، قبر،.... په دې بڼې ونه لیکو: غوسه، مانا، سئي، سوله، خپه، کبر، ... خو مشهور غلط لکه هدیره او لوز چې په اصل کي حضیره او لفظ دي عجالتاً په خپل حال پرېږدو او ورو ورو ئې تصحیح کړو....

متروک الفاظ

له دې ډېره وکړو چې متروک الفاظ بیا راژوندي کړو او د دخیل معروفو لغاتو په ځای ئې وکاروو، او دا پښتو ژبي ته د خدمت په نامه یاد کړو. لکه چوپړ د خدمت په ځای راوړل، خدمت په پښتو کي دومره عام استعمال لري چي تر چوپړ خلک پرې ډېر ښه پوهېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ئې نه منئ نو له خدائي خدمتګارانو پوښتنه وکړئ.

له بلي ژبي ژباړه

تر څو چي پښتو په يوې واقعي ملي ژبي بدلېږي او هر نوي شي ته د خپلې ژبي په قالب کي نوی نوم غوره کوي، بايد له عربي ژبي مرسته وغواړو، که ژباړي ته اړ کېږو نو دا ژباړه مو له عربي وي نه له کومي بلي ژبي، تر اردو، فارسي، انګليسي او ډېرو نورو ژبو پښتو ډېره غني ژبه ده، د مثال په توګه د پروسې لپاره عمليه، د پلان لپاره منصوبه، د کواليټي لپاره کيفيت، د لست لپاره فهرست، د راپور لپاره اطلاع يا خبر... له هري ژبي کلمې په کلمې ژباړه غلطي ده، مخصوصاً له فارسي نه پښتو ته، حقيقت دا دئ چي په فارسي کي ډېر بې ځايه او بې خونده تکلف شوي، د ادبي او عاميانه ژبي ترمنځ ئې ژور توپير شته، که څوک د فارسي عاميانه ژبه له تصرف او تغير نه پرته وليکي او له ادبي ليکني سره ئې مقايسه کړي ورته معلومېږي چي څومره تغير پکي راغلی، د مثال په توګه: مه ميرُم- من می روم، ما ميريم - ما می رويم، بيا بريم- بيا برويم، کار کديم – کار کرديم، او هلته چي عربي کلمات کاروي نو عجيب څه ترې جوړ کړي؛ د بيلګي په توګه: قرار بود، به سقوط مواجه سازد، به ابلاغ فرمان مقام معظم رهبری همت ګماشت، زمام اداره کشور در اختيار معظم له

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرار گرفت، فرمان صادر فرمود... او له انگریزي play roal په رول یا نقش بازی کرد، مقلد ژباړونکي هڅه کوي دغه ټول الفاظ له ټول بې ځایه، عبث او مسخره تکلف سره کلمه په کلمه وژباړي او لیکي: قرار و، له سقوط سره مواجه کړ، د رهبرۍ د معظم مقام د فرمان د ابلاغ لپاره ئې همت وګماره، د هېواد د اداري زمام د معظم له په اختیار کي قرار ونیوه، فرمان ئې صادر وفرمایه، رول ولوبوي...

ځیني لیکوالان د فارسي هغه اصطلاحات په بشپړه توګه په پښتو ژباړي چي ډېر بې ځایه تکلف په کي شوی، هلته عربي الفاظ په ناسمه توګه او له تکلف سره کارول شوي او دا لیکوالان له هغوی تقلید کوي او همدا کار په پښتو کي کوي، لکه دا چي په فارسي کي وایي در آن جا وجود داشت، دوی د وجود عربي کلمه پور کړې او له تکلف سره ئې کارولې، دا ئې تر دې ادبي ګڼلې چي ولیکي: در آن جا بود، زموږ لیکوالان له دوی تقلید کوي او لیکي: هلته ئې شتون درلود!! ګمان کوي چي دا به تر دې ډېر ادبي وي چي ولیکي: هلته وو. یا دا چي په فارسي کي لیکي، در اختیار او قرار گرفت، د دې په ځای چي ولیکي: به دستش افتاد، زموږ لیکوالان ئې داسي راژباړي: په اختیار کي ئې قرار ونیولو!! د دې په ځای چي ولیکي: په لاس ورغی، یا په واک کي ئې شو، په لیکني کي بې ځایه تکلف لیکنه عیبناکه کوي، د بلاغت غوښتنه دا ده چي اضافي توري او کلمات ونه کارول

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي.

ځيني ژباړونکي د فارسي دا ترکیب: موجود است یا وجود دارد، داسي ژباړي: شتون لري، خو هم دا فارسي ترکيب بې خونده او بې ځایه تکلف دئ او هم ئې پښتو ژباړه، پښتو ژباړونکو ته مي مشوره دا ده چي له تکلف نه ځان لري وساتئ، سادګي خپله کړئ، په مختصرو الفاظو اکتفاء کوئ، او که کله دې ته اړ کېدئ چي له فارسي نه څه پښتو ته وژباړئ نو لومړئ فارسي جمله له تکلف نه وباسئ بيا ئې وژباړئ، داسي مه کوئ چي په فارسي که وګورئ چي چا ليکلي: تشريف فرما شد، حضور بهم رساند، قدم رنجه کرد، به خوانش ګرفت، او دې ته ورته نور کرکجن او له بې خونده تکلف نه ډک ترکیبونه، نو تاسو هم متې راونغاړئ او په پښتو کي ئې د ژباړلو هڅه وکړئ، دا نه ژبي ته خدمت دئ او نه د یوه پوه، حکيم او اديب ليکوال کار، په فارسي کي دا کار درباري ليکوالانو کړی، هغه مقلد ليکوالان ترې تقليد کوي چي د ويلو لپاره څه نه لري، غواړي خپل بې محتوی مطالب د رنګينو الفاظو په جامه کي ونغاړي او له ناپوهو اورېدونکو او لوستونکو نه شاباش ترلاسه کړي.

مجهوله يې:

په مشرقي ليکدود کي مجهوله يې ډېره او بې ځايه کارول

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي، د مثال په توګه چي، کي، مي، دي، داسي، هسي،... داسي ليکي: چې، کې، مې، دې، داسې، هسې... حال دا چي په کار ده (دي، کي، چي، مي، داسي، هسي... صحيح وګڼو او (دې، کې، چې، مې، نې، بې، زې، تې، داسې، هسې) د دغو ترکيبونو مخفف ومنو (دي ئې، که ئې، چي ئې، مي ئې، نه ئې، به ئې، زه ئې، ته ئې، داسي ئې، هسي ئې) ، مثالونه ئې:

کتاب دې ورکړ؟ يعنى د ده خپل کتاب دي ورکړ؟ او کتاب دي ورکړ؟ يعنى کوم کتاب دي ورکړ؟ کتاب دي ئې ورکړ غلط او د ټولو پښتنو قبيلو د مروج تلفظ خلاف دئ.

الله تعالى دې شهادت قبول کړي، يعنى الله تعالى دي د ده شهادت قبول کړي. دا سمه نه ده چي وليکو: الله تعالى دي ئې (يا دې ئې) شهادت قبول کړي، د پښتنو هيڅ قبيله داسې نه وايي، نه پوهېږو دا د چا کوږ بدعت دئ؟

کتاب مې ورکړ، يعنى د ده خپل کتاب مي ورکړ، او کتاب مي ورکړ، يعنى يو کتاب مي ورکړ.

کې ځواب ورکړی نه وی، يعنى که ئې ځواب ورکړی نه وی.

دا کتاب چې ليکلو، يعنى دا کتاب چي ئې ليکلو.

نې خبر کړ له خطره، يعنى نه ئې له خطره خبر کړ.

چي دښمن بې خپل هېواد کي نه پرېښود: يعنى دښمن به ئې په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېواد کې نه پر ېښود.

زې لامنم، یعنی زه ئې لامنم.

تې لازغمې، یعنی ته ئې لازغمې؟

داسې ځواب کړه چې بیا رانه شي، یعني داسي ئې ځواب کړه ....

هسې خبر کړ، یعني هسي ئې خبر کړ.

په پښتونخوا کي د مجهولي (ې) لپاره یوه نوې یې رواایستل شوې چي له اردو ئې اخیستې ده، داسي ئې لیکي: (ے)، اردو ژبه هم د پښتو مجهولي یې ته ورته غږ لري چي همدا (ے) ورته راوړي. لکه کیلئے .

ښځینه جمع

ځیني ادعا کوي چي د ښځینه نومونو جمع باید په اوږده یې سره ولیکو، خو دا خبره صحیح او معیاري نده او د پښتنو د ټولو قبیلو له عام تلفظ سره مغایرت لري، صحیح او معیاري خبره دا ده چي هغه ښځینه نومونه چي په پای کي ئې هې وي په جمع کي همدا هې په یې بدلېږي، خو دا یې کله اوږده او کله لنډه تلفظ کېږي، که تر هې مخکي توری زورکی ولري، په جمع کي دا زورکی په زېر بدلېږي او د هې په ځای ځرګنده (ي) راځي، لکه ښځه ښځي، کونډه کونډي، ژبه ژبي، او که تر هې مخکی توری زور ولري زور ئې په زورکي بدلېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د هې په ځای اوږده (ې) راځي؛ لکه ځپه ځپې، ړنده ړندې، خوږه خوږې، شپه شپې.

د ښځینه جمع لپاره دا قاعده قبوله کړو چي: ښځه، کونډه، لنډه، تنده، مرسته، بېله، بله، پېښه (حادثه)، او دې ته ورته ښځینه مفرد په ښځي، کونډي، لنډي، تندي، مرستي، بېلي، پېښي او ټول هغه ښځینه نومونه چي تر یې مخکي توری ئې زېر ولري په (ي) سره ئې جمعه کړو او منه، لنده، اوږده، پېښه (تقلید)، ځپه او دې ته ورته صیغې په منې، لندې، اوږدې، پېښې، ځپې او ټولي هغه صیغې چي تر یې مخکی توری ئې زېر کی ولري په (ې) سره جمع کړو.

اغلباً دا (ې) ډېره او بې ځایه استعمالېږي، په هغو ځایونو کي هم کارول کېږي چي د پښتنو د هیڅ قبیلې په تلفظ کي نه احساس کېږي او په ډېرو مواردو کې نه یوازي له تلفظ سره اړخ نه لگوي بلکي د التباس باعث گرځي، د مثال په توگه: د جمع لپاره هم او د ندا لپاره هم ښځې لیکل، چې له یوې خوا له عام تلفظ سره مغایرت لري او له بلي خوا مخاطب په اشتباه کې اچوي، باید (ښځي د ښځه جمع او ښځې د اې ښځې په معنی) ولیکو، په دواړو صورتونو کي ئې د ښځې په توگه لیکل د التباس باعث گرځي. یا (ورځې) د ورځ جمع او له مخاطب نه د تلو په اړه پوښتنه (ته ورځې؟) سم ئې ورځي (د ورځ جمع) او ورځې د پوښتني لپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ئې او یې توپیر

ئې او یې باید تفکیک کړو، لکه دا: کتاب ئې ولوست، ته ښه لیکوال یې. دواړه په یوه ډول لیکل صحیح نه دي.

له، په، نه

(له، په، نه) کېدی شي له وروستۍ کلمې سره یو ځای ولیکل شي او (هـ) ئې حذف شي، لکه:

لپاره، لخوا، لدوی، لده.

پکي، پدې، پدوی

نشته، نشو، نشي، ندئ،

په نورو ژبو کې هم داسي حذف ګورو، لکه په دري کي: نه می رود - نمی رود، نه نوشت- ننوشت، نه کرد - نکرد، به من - بمن،

دی او دئ

(دی) د (ده) لپاره، او (دئ) د ده د حالت بیانولو لپاره، لکه: دی ښه لیکوال دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(و) او (ؤ)

د (و) او (ؤ) په ځای د (وو) لیکل، دی په سنگر کي وو. یوازي (و) او (ؤ) مطلوب غږ نه افاده کوي.

(وه) او (وو)

په ماضي صیغو کي د مذکر او مؤنث تر منځ تفکیک او دواړه یو ډول نه لیکل، داسي چي حامد یوه خور درلوده او محمود یو ورور درلودو، همداراز د ساته په ځای ساتو، د لیکه په ځای لیکو، د (کاوه) په ځای کاوو، او ... ساته او لیکه او دوی ته ورته صیغې د مؤنث او امر لپاره مختص کړو، ته خط لیکه، ته لار ساته... یوه لار ساتله بل سنگر ساتلو، یوه لار ساته او بل سنگر ساتو، د پښتنو هیڅ قبیله نه وایي: بل سنگر ساته، یا محمود زوی درلوده. که د ولس عامه لهجه او تلفظ اعتبار لري نو دا صحیح نه ده چي ولیکو: احمد ښه پوهېده، باید ولیکو احمد ښه پوهېدو، او ملالۍ ښه پوهېده. احمد کار کاوو، احمد مړۍ خوړه، دا صحیح نده چي ولیکو: احمد کار کاوه.

په او پر

(په) د ظرف لپاره او (پر) د استعلاء لپاره کارول، مثالونه ئې، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب کي، پر بام، په ۱۳۸۶ کال کي، خو استثناءات باید ومنو، لکه: د دې په ځای، په مېز باندي، په خدای قسم، دا ځکه چي ډېری پښتانه په داسي مواردو کي د (پر) په ځای (په) کاروي.

پر او باندي یو ځای کارول غلطي ده: لکه کتاب پر مېز باندي پروت دئ، صحیح ئې دا ده: کتاب پر مېز پروت دئ. ورباندي او درباندي هم د (پر) او (پرې) په ځای راتلی شي لکه: پور ورباندي لري، اعتماد درباندي لرم،

باندي

د باندي صیغه ډېره بې ځایه او غلطه استعمالېږي، او غلطه لیکل کېږي، لکه: په دې خاطر باندي، په دې اساس باندي، په دې هکله باندي، زما په نظر باندي، په دې اړه باندي.... چي دلته باندي ته هیڅ ضرورت نشته، په دې خاطر، په دې اساس، په دې هکله، په دې اړه، زما په نظر کافي او صحیح دي، زما په نظر او زما له نظره ئې صحیح صورتونه دي. د باندي، لاندي، وړاندي .... صحیح لیکنه همدا ده، د لاندې، باندې، وړاندې .... په توگه ئې لیکل غیرمعیاري دي او د پښتنو هیڅ قبیله ئې په مجهوله نه تلفظ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځ او ز ستونزه

د (ځ) او (ز) ستونزه باید حل کړو، ستونزه، استازی، زلمی، ختیز، لوېدیز... صحیح وګڼو، خو هلته چې د بلي ژبي (ج) پښتو ته رااړوو نو د ضرورت په صورت کي ئې په (ځ) بدل کړو، لکه جواب: ځواب، جای: ځای، جور: ځور، ...

سته او شته

سته د شته، نسته د نشته... په ځای کارول ومنو، ځکه دا د پښتنو د اکثریت ژبه ده، له مشرقي پرته نور ټول پښتانه همدا الفاظ کاروي، او دا د دري (است) او (نیست) ته ورته دي، د پښتو او دري بې شمېره لغات ګډ اساس لري،

نه او څخه

د (نه) په ځای یوازي (هـ) راوړل: له کنره تر هراته، له مزاره تر پکتیا، او له میمنې تر پکتیکا او له فراه تر پامیره(په هـ او الف پای ته رسېدلي کلمات په وروستیو دوو بڼو کي)، دا نور پر پرېږدو چي لیکي: له فراه څخه تر پامیر پوري، له خدای څخه غواړم، یا له خدای نه غواړم، که دلته د (خدای) له نومه وروسته لږ توقف وشي نو معنی ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا راوځي چي له خدايه ئې نه غواړم. نږدې ټول پښتانه داسي وايي: له خدايه غواړم.

د (ورڅخه) او (ورنه) په ځای (ترې) راوړل، د (ما ورڅخه وپوښتل)، يا (ما ورنه وپوښتل) په ځای ما ترې وپوښتل.

موږ او مونږ

مونږ او (موږ) دواړه مجبوراً صحيح ومنو خو ورو ورو ئې موږ ته راواړو، ځکه په دې سره به زموږ ليکنه د ډېرى پښتنو له تلفظ سره ورته شي، د جنوب او غرب پښتانه دا لفظ داسي نه تلفظ کوي چي (ن) هم په کي راشي، لږ پښتانه ئې داسي تلفظ کوي چي د (ن) خفيف غږ هم په کي راځي.

فعل کوم نوم او ضمير ته ورته راوړو

دا قاعده قبوله کړو چي له مخي ئې ليکي: سړی له خپلي مېرمني سره راغی، او مېرمن له خپل مېړه سره راغله، د راغلل په ځای، دا هم صحيح ومنو چي کتابونه او کتابچې ئې راوړل (د راوړې په ځای)، کتابچې او کتابونه ئې راوړل. ښځې او نارينه راغلل، نارينه او ښځې راغلل(د راغلې په ځای)، که څه هم نږدې ټول پښتانه فعل د وروستي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضمیر په بڼه اړوي او وايي: نارينه او ښځې راغلې، کتابونه او کتابچې ئې راوړې، کتابچې او کتابونه ئې راوړل. ښځې او نارينه راغلل.

جمله په فعل پای ته رسول

د جملې په پای کي له فعل نه وروسته (دئ، ده او ...) ليکل ضروري ونه ګڼو: لکه دا چي ښه کتاب ئې ليکلی دئ، استادان راغلي دي، ډېره مبارزه ئې کړې ده، دا کافي او صحيح وشمېرو چې: ښه کتاب ئې ليکلی، استادان راغلي، ډېره مبارزه ئې کړې.

د (ز)، (ج) او (ژ) په اړه اختلاف

د (ز)، (ج) او (ژ) اختلافي کارول ورو ورو توحيد کړو، د ننګرهار ځيني قومونه وايي: ژوندی، ژبه، ژمی، روژه... د کنر او پېښور پښتانه ئې جوندی، جبه، جمی، روجه ... کړي، د جنوب او جنوب غرب، او د پښتنو ډېری قومونه ئې زوندی، زبه، زمی، روزه ... تلفظ کوي، دا او دې ته ورته کلمات له دري سره هم ګډ بنسټ لري، هغوی زنده، زبان، زمستان، روزه کړي، له دې نه معلومېږي چي اصل (ز) ده، د ځينو عواملو په وجه (ژ) او (ج) ته اوښتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د (ښ) او (ک) مخکي وروسته کول

د (ښ) او (ک) مخکي وروسته کول هم يوه ستونزه ده، کله چي دا دوه توري يو د بل څنګ ته راشي، نو د مشرقي خلک يا (ښ) له (ک) نه مخکي کړي او يا ئې حذف کړي، دا ځکه چي دوی (ښ) په داسي توګه تلفظ کوي چي له (ک) نه وروسته تلفظ ئې ورته ګران دی، نور پښتانه کښته، کُښلی ... وايي خو دوی ئې ښکته او ښکلی کړي، نور وايي: کښېنه، کښېږده، ... دوی وايي کېنه، کېږده، د جنوب غرب پښتانه (کښي) وايي، په کور کښي دئ، خو د مشرقي پښتانه ښ حذفوي او وايي په کور کي دئ، (ډېری پښتانه په دې خاص مورد کي له مشرقي والو سره همغږي دي او کي وايي او دا ځکه چي تر کښي آسانه دئ)، دې ته مو هم بايد پام وي چي د دري نشستن له کښېنستل سره ګډ بنسټ لري، ک ئې د دې لپاره حذف کړی چي دري ژبي نه شي کولی کلمه په ساکن حرف پيل کړي، يا به ئې حذفوي او يا به متحرک حرف وربانديي اضافه کوي، د انګليسي stop د استاپ په بڼه تلفظ کوي، او د پښتو له لمر نه ئې مهر جوړ کړی، او له کښېنستل نه نشستن، دا ښيي چي اصل کښېنستل دئ نه کېنستل، د (ښ) ګران تلفظ د دې سبب شوی چي په دغو کلماتو کي تغيير راشي. د همدې لپاره ګورو چي ځيني پښتانه قومونه (کښ) په

(c) ketabton.com: The Digital Library

(چ) بدلوي او وايي: چېنه، چېړده،

بخښنه او بښنه هم د دې ستونزي يوه بله بېلگه ده، دا د فارسي له بخش سره گډ بنسټ لري، لکه وبخښه او ببخش، مشرقي وال د دې لپاره خې حذفوي چي ښ هم د خې په څېر تلفظ کوي، دا دوه ورته غږونه څنگ په څنگ ويل گران دي نو ځکه ئې خې حذف کړې.

د (د) او (له) ستونزه

ځيني پښتانه (د) د (له) په ځای کاروي چي دا يوه غلطي ده، صحيح ئې دا ده چي: دی د کابل دئ، دی له کابله راغلی، صحيح نه ده چي ووايو: دی د کابله راغلی دئ، په دري کي د دغو دواړو لپاره (از) راځي، (او از کابل است)، (او از کابل آمده)، هغه خلک چي د دري تر اغېز لاندي دي دا دواړه يو د بل په ځای راوړي.

د (ف) او (پ) لانجه

پښتانه د (ف) په ويلو کي مشکل لري، د همدې لپاره غواړي هغه په (پ) واړوي، مخصوصاً کله چي د بلي ژبي الفاظ پښتو ته رااړوي، د مثال په توگه د عربي له فوج نه پوځ او د انگريزي له فابريکې نه پابريکه جوړوي، په کار ده چي دا په خپلي اصلي بڼې کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وليکل شي، فوج يا فوځ او فابريکه.

د (ق) او (ک) ستونزه

پښتانه د (ق) په ويلو کي هم ستونزه لري، غواړي آسان ئې کړي، او د (ک) بڼه ورکړي، قرار، قوم، قلم، او له عربي نه اخيستل شوي نور کلمات د کرار، کوم، کلم په توګه تلفظ کوي او ځيني بې خبره خو متعصب ليکوالان ګمان کوي يا قصداً ښيي چي صحيح بڼه ئې همدا ده، په کار ده چي دا او دې ته ورته ټول دخيل لغتونه په خپلي اصلي بڼي کي تلفظ او وليکل شي. دري ژبي چي ټول دخيل لغاتونه په اصلي بڼي کي قبول کړي، اوس د ادبي دري نږدې اويا په سلو کي عربي لغات جوړوي، هلته هم ځيني متعصبي کړی هڅه کوي چي عربي لغات له دري وباسي، که څه هم دا کار ناشونی دئ، خو که له دري نه عربي ووځي نو په يوې نيستمني ژبي به بدله او خپله ټوله اوسنۍ غنا به له لاسه ورکړي. د ايران متعصبو کړيو له اوږدې مودې راديخوا دا هڅه پيل کړې، د عربي او عربو په ضد د دوی او د نورو قومونو هره هڅه چي په مسلمانانو کي قومي او نژادي تعصبات راپاروي د غربي نړی له لوري بدرګه شوې او دوی ئې په شا ټپولي، د ايران معروف شاه پرست شاعر فردوسي خپله شاهنامه داسي وليکله چي هيڅ عربي لفظ په کي رانشي، نن او په ايران کي د شيعي انقلاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

له راتلو وروسته هم دا لړۍ جاري ده، په افغانستان کي هم ځيني متعصبي غربپال او ايران پلوه ډلي همدا کار کوي. غربپال پښتانه ليکوالان هم په دې ګمارل شوي چي همدا کار وکړي.

(ږ) او (ګ)

هغه پښتانه چي (ږ) د (ګ) په څير تلفظ کوي، له (غ) نه مخکي د (ږ) تلفظ ورته ګران شي، نو ځکه (غ) ترې رامخکي کوي او له (ږغ) نه (غږ) جوړوي، خو نور پښتانه ئې ږغ ګڼي. لږ تر لږه بايد دا صحيح تلفظ هم ومنو.

(ږ) او (ن)

همدا راز کله چي (ږ) او (ن) سره نږدې راشي نو مشرقي وال همغه معامله ورسره کوي چي له (ک) او (ښ) سره ئې کوي، (ن) له (ږ) رامخکي کړي، دا هم د (ږ) د ګران تلفظ په وجه ده، له ږنور او ږنندي نه نږور او نږندي جوړ کړي. خو نور پښتانه چي (ږ) د (ګ) په څير نه تلفظ کوي دا مشکل نه لري او په خپلي اصلي بڼه کي ئې تلفظ کوي او ليکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(کامه) او (او)

کامه باید د (او) په ځای او هلته وکارول شي چې د یوې جملې پای او د بلې اړوند جملې پیل په ګوته کړي، نه مکرر (او) لیکل صحیح دي او نه دا چې ولیکو: رپوټونه وایي، چې....، په داسې مواردو کې تر چې نه مخکې د کامې راوړل صحیح نه دئ او د جملې ضروري ارتباط شلوي .

(لېري) او (لري)

د لېري او لري سمه لیکنه همدا ده، د لېرې او لرې په توګه ئې لیکل غلط او د مروج تلفظ خلاف دي، د لري (بعید) او لري (د لرلو صیغه) تر منځ تفکیک د لام او رې په حرکت سره کېږي، په لومړي کې لام زور او رې زېر لري او په دوهم کې لام زور او رې زورکی لري.

(ولې) او (ولي)

د ولي (نوم) او ولي (استفسار کلمه) یو رنګ او په همدې توګه لیکل صحیح دي، د ولې په توګه ئې لیکل غیرمعیاري دي، د دواړو ترمنځ تفکیک په یې سره نه بلکه د واو په حرکت سره کېدی شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لومړي کي واو زورکی لري او په دوهم کي زور. هیڅ پښتون د ولي وروستۍ يې د ويالې په څېر نه تلفظ کوي.

(اوه) او (اووه)

اوه (۷) په همدې توګه لیکل سم او د اووه په توګه ئې لیکل ناسم دي، داسي لیکل ئې د هغه چا اختراع ده چي غواړي د پیش په ځای واو ولیکل شي، دا عدد په اصل کي داسي تلفظ کېږي (اُوَه)، الف پېش لري او واو زور.

(يولس) او (دولس)

يولس او دولس همداسي لیکل سم او د يوولس او دوولس په توګه ئې لیکل ناسم دي، د دواړو عام تلفظ داسي دي: يُوُلَس، دُوُلَس؛ په اصل کي (يو او لس) او (دوه او لس) وو چي تخفیف پکي راغلی، د او په ځای لومړي واو ته پیش ورکړی شوی او هې حذف شوې.

(نه) او (نهه)

نه (۹) په همدې بڼه لیکل صحیح دي نه د نهه په توګه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(ای) او (اې)

د ندا لپاره په عربي او دري کي (ای) او په پښتو کي (اې) ويل کېږي، نږدې ټول پښتانه وايي: اې ربه! اې پلاره ! اې زويه! په کار ده چي په ليکني کي هم دا مراعات شي.

(هغې) او (هغي)

د هغې او هغي سمه کارونه داسي ده: هغي ښځې وويل، هغې وويل، په هغي لاري تلل، په هغې تلل، هغي برخي ته ولاړ، هغې ته ولاړ

(پسې) او (پسي)

د پسې او پسي توپير: ورپسې شه، په ده پسي ورشه، پسي ورشه،

(تاسي) او (تاسې) فرق

تاسې د (تاسي ئې) مخفف دئ لکه دا چي تاسې هم ولولئ (يعني تاسي ئې هم ولولئ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

(لپاره) او (له پاره)

د دې (لپاره) يا د دې (له پاره) صحيح دي او د دې (د پاره) غلط. اصل ئې پار دئ، د پښتنو ځيني قبيلې ئې د پار په ښه کاروي، د خاطر په معنی لکه چې وايي: د خدای پار دئ،

د (نه) بې ځايه کارول

لکه: له ننګرهار نه، له لغمان نه... چېرې چې يو لفظ په فتحه او الف پای ته رسېږي د نه راوړل صحيح نه دي لکه: له الله غواړم، له ما وپوښته، له تا پوښتي، په داسي مواردو کي نه راوړل صحيح نه دي، خو که په ساکن توري پای ته رسي نو ښه دا ده چې يوازې هـ پرې علاوه کړو، لکه له کابله، له لغمانه، له کابل نه او له لغمان نه ليکل صحيح نه دي. او له کابل څخه يا له کابل چخه خو لاډېر بې خونده دي. اصل ئې له کابلَ راغلم دي، چې دا زور په هـ بدلوي.

(اړه) او (اړوند)

دا دواړه هم په غلطه توګه استعمالېږي، اړه د ارتباط په معنی او اړوند د مربوط په معنی دي، د کتاب په اړه ئې معلومات ورکړ، د کتاب اړوند معلومات ئې ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پایله

پایله د نتیجې په معنی راوړل غلطي ده، د پایلي دقیقه ژباړه عاقبت او انجام دئ، داسي لکه له بدو پایلو سره مخامخ شو. په کار ده چي نتیجه، حاصل او ثمره د پایلي په معنی ترجمه نشي.

(پرې) او (ترې)

دا دواړه د (پر ئې) او تر ئې) مخفف دي، همغسي لکه مې، کې، چې، دې چي د (مي ئې)، (کي ئې)، (چي ئې) او (دي ئې) مخفف دي.

(مات) او (ماتې)

مات، ماته، ماتي صحیح او ماتې غلطه لیکنه ده. مات شو، ماته شوه، له ماتي سره مخ شو، ماتي او بریاوي به وي، صحیح دي.

(پاته) او (پاتې)

پاته صحیح لیکنه ده، راځه له موږ سره پاته شه، شا ته پاته شو، ځیني پښتني قبیلې پاتې وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(خدای) او (لمونځ)

د خداوند او نماز الفاظ له پښتو نه دري ته تللي، اصل ئې لمونځ او خاوند دي، لمونځ او خاوند واضح معنی لري، لمونځ د تجليل په معنی او خاوند د څښتن په معنی ده چې يو ئې د الله تعالی لپاره غوره معنی لرونکی نوم او بل ئې د لمانځه لپاره مناسب نوم دئ، نماز او خداوند داسي جوړ شوي چې له معنی پرته نومونه دي، دا ځکه چې له بلي ژبي اخيستل شوي، په دري کي خاوند په خداوند اوښتی بيا تخفيف شوی او خدا ترې جوړ شوی او بيا پښتو ته راانتقال شوی او خدای ترې جوړ شوی.

د لمونځونو اوقات

د لمونځونو اوقات له دري اخيستل شوي او په پښتو کي تغيير په کي راغلی: نماز شام ئې ماښام کړی، (ن) او (ز) ئې ترې حذف کړي، نماز خفتن ئې ماخستن، نماز ديگر ئې مازديگر، نماز پيشين ئې ماپښين کړي، له (پس شوي) نه ئې پېشلمی جوړ کړی، ښايي د دې مهال اصلي نوم په پښتو کي سېمی وي چې ځيني پښتانه ئې په همدې نامه يادوي، موږ د اوقاتو لپاره ګهيځ، برېزر، غرمه، لمرخاته او لمر ولېده لرو، د ګهيځ په ځای مو د عربي سحر رااخيستی خو هغه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینو سهار کړی.

(عکس العمل) او (غبرګون)

په دې وروستیو کې د عکس العمل په ځای د غبرګون د راوړلو شاهد یو، په داسې حال کې چې غبرګون د عکس العمل معنی نه افاده کوي، نه پوهېږو په دې کې کوم مصلحت ګوري چې دا جامع اصطلاح په ناقصه توګه بدلوي. غبرګ د یوویستوي په مقابل کې راځي.

(اند) او (فکر)

په وروستیو څو میاشتو کې د اند کلمه په ځینو کړیو کې دود شوې، د فکر او نظر په ځای ئې کاروي، په داسې حال کې چې دا او دې ته ورته الفاظ هومره عام شوي او هر څوک ئې په معنی پوهېږي چې په ډېر زحمت سره کولی شو بدلي او حذف ئې کړو، د عربي الفاظو په ځای د پښتو متروک الفاظ دودول د هغو کړیو کار دئ چې له عربي سره حساسیت لري، د همدې لپاره ګورو چې په استعماري ځواکونو پوري تړلې خبري رسنیو دې کار ته کلکه ملا تړلې، متعصبي څېرې ئې استخدام کړې او دا کار پرې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای پامان

خدای پامان په اصل کي د خدای په امان کي دئ، تخفیف په کي راغلی، په اوسنۍ بڼې کي صحیح مفهوم نه افاده کوي، که خدای دي مل، خدای دي حافظ، خدای دي ساتونکی، د خدای په امان کي دي وې... وویل شي غوره دئ. او دې ته خدای پامانی ویلی شو.

لرغونې ژبه

ځیني متعصب او ناپوه لیکوالان، هغه چي ډېری ئې له بهر نه گمارل شوي، دا هڅه کوي چي د افغانانو ترمنځ اختلافات راولاړ کړي، یو ئې ادعا کوي چې پښتو اصیله ژبه ده او لرغونی تاریخ لري او بل ئې وایي دري او فارسي اصیله ژبه ده او اوږد تاریخ لري، دا جنابان دې ته متوجه نه دي چي د پښتو او دري په سلو کي تر اتیا زیات لغاتونه گډ بنسټ لري، که د الفاظو په اړه ئې دقیقه څېړنه وکړي ورته معلومه به شي چي دا دواړه ژبي څو پېړۍ مخکي یوه ژبه وه، د خاصو عواملو په وجه سره بېلي شوې، دا کړۍ د یوې ژبي تسلط د هغې د ښه والي دلیل گڼي، حال دا چي د ژبي د تسلط عوامل نور دي، هغه ژبه مسلطه شوې چي په سیاسي لحاظ مسلطه شوې، که نن انگرېزي د نړۍ مسلطه ژبه ده وجه ئې دا نه ده چي دا ژبه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو ښه والی لري، یا لرغونی تاریخ، وجه ئې د هغه قوم سیاسي سلطه ده چي انګریزي وايي، زه په ډېر ډاډ او جرأت سره ویلی شم چي انګرېزي د نړۍ تر ډېرو ژبو ناقصه، وروسته پاتې او له ادبي لحاظه ستونزمنه ژبه ده. په افغانستان کي د پښتو ژبي د عدم ودي او فارسي د تسلط عوامل نور دي، چي زه ئې څېړل مفید نه ګڼم.

دغو کړیو ته وایم راشي وګورئ چي د پښتو او فارسي لغات څومره سره ورته او نږدې دي:

د انسان د غړو نومونه:

پښتو	فارسي
سر	سر
پزه یا پوزه	پوز
زنې	زنخ
زبه یا ژبه	زبان
ورون	ران
لاس	دست (ل) په (د) بدل شوی
پښه	پا (ښ) حذف شوی
زنګون	زانو
غوږ	ګوش غ په ګ او ږ په ش بدل شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غاړه	گردن غ په گ ړ په ر او ه په دن بدل شوي
غوښه	گوشت
گوته	انگشت
نوک	ناخن او نوک

خپلوان

پلار	پدر لا په د بدل شوي
ورور	برادر
خور	خواهر
مور	مادر
لېور	ییور
ماما	ماما
نیکونه	نیاکان
زېږېدلی	زائیده

شمېرې

یو	یک
دوه	دو
درې	سه
څلور	چهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځه	پنج
شپږ	شش
اوه	هفت
اته	هشت
نه	نو
لس	ده
یولس	یازده
دولس	دوازده
دیارلس	سیزده
څورلس	چهارده
پنځه لس	پانزده
شپاړس	شانزده
اوه لس	هفده
اته لس	هژده
نولس	نوزده
سل	صد
زر	هزار

اشیاء

آسمان	آسمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمکه	زمین
لمر	مهر
میاشت سپوږمۍ	ماه
باران	باران
اوبه	آب
ونه	بن واو په ب بدل شوی
بوټی	بوته
شگه	ریگ
غر	هیر (کوه)
دریاب (سیند)	دریا
کور (انگور)	انگور
غنم	گندم (غ) په گ بدل شوی
جوار	جواري
مار	مار
آس	اسپ
خر	خر
غوا	گاو غ په گ بدل شوی
وز او وزه	بز
پشۍ، پشکه	پشک

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرغه	مرغ
طوطي	طوطی
بلبله	بلبل
ځنگل	جنگل
نوی	نو

رنگونه

تور	تار (سیاه و تاریک)
سور	سرخ
سپین	سفید
زېړ یا ژېړ	زرد
نصواري	نصواري

افعال

لیدل	دیدن ل په د بدل شوی، تل همداسي شوي
خوړل	خوردن
وخوره	بخور و په ب بدل شوی، تل همداسي شوي
کړل	کردن
کرل	کاریدن کشت کردن

(c) ketabton.com: The Digital Library

رېبل	درويدن
وړل	بردن
شړېدل	شاريدن
تگ	تک و دو
آزمېښت	آزمايش
ورېدل	باريدن

نومونه

خاوند	خداوند
ستر	سترگ
گرم	گرم
سوړ	سرد
نرم	نرم
سخت	سخت
شرم	شرم
تبه	تب
شپه	شب
ورځ	روز
غرمه	گرمي
لمن	دامن

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای	جای
مږه	موش

دې ته باید متوجه وو چي کله ځیني لغتونه له پښتو نه فارسي ته اوړي نو د پښتو لغت ځیني توري لکه ل، غ، ځ، و، ږ په دري کي په د، گ، ج، ب، ش بدل شوي، لکه:

لمن - دامن، لیدنه- دیدن، پلار- پدر، لاس- دست...

غوږ -گوش، غوښه -گوشت، غرمه - گرمي

ځای -جای، پنځه- پنج،

شپږ - شش، مږه - موش،

ونه - بن، وخوره - بخور،

د دې الفاظو شمېر ډېر زیات دئ، دومره چي په دې کي چا ته د شک ځای نه پرېږدي چي پښتو او دري څو پېړی مخکي یوه ژبه وه او ورو ورو سره بېلي شوې.

څو ورځې مخکي مي د یوه متعصب لیکوال مرکه اورېده چي ویل ئې فارسي د پښتو په پرتله اوږد تاریخ لري او گواکي پښتانه لیکوالان له فارسي نه ژباړه کوي. دا د بیمار ذهن او زړه او کوږ فکر او قلم خاوند په دې نه پوهېږي چي پښتو او فارسي څو پېړی مخکي یوه ژبه وه، ورو ورو سره بېلي شوې، ډېر ناپوه او کمعقله انسان به داسي انگېري چي فارسي تر پښتو زوړ تاریخ لري، څوک چي په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېږي چې انسانان له يوه مور پلار پيدا شوي، نژاد ئې يو او د يوې ستري کورنۍ غړي دي، هغه په دې پوهېږي چې د ژبو بنسټ هم يو دئ، مختلفي ژبي داسي دي لکه د يوې ستري وني لويي او وړې څانگي، هر څومره چې له وړو څانگو نه د سترو څانگو په لوري ځو بېلي څانگي گډ بنسټ پيدا کوي، نه يوه څانگه پر بلې غوره والی لري او نه زوړ تاريخ.

پښتو او کمپيوټر

پښتو نوې کمپيوټر ته لار موندلې، د هغو افغانانو دا هڅه د ډېر قدر وړ ده چې دا کار ئې کړی، خو ډېر کار لا پاته دئ، د پښتو لپاره ښکلي حروف جوړول يو له دغو کارونو څخه دئ، هم د متن لپاره او هم د عنوان لپاره، موجود حروف ځيني ستونزي لري، ځيني ئې د يو شمېر ضروري حروفو د نشتوالي له مخي ناقص دي، آ، ؤ، أ، إ، گ، ... نه لري، ځيني ئې داسي دي چې د (د، ډ، ر،ز، و او نورو حروفو موقعيت په دقيقه توگه نه دئ ټاکل شوی، په ليکه برابر نه وي، ښکته او پورته وي، په کرور حرف کي داسي دي: (د و ډ ذ رد ز و) په ځينو کي يو شمېر علايم لکه . ، : ! " په واضح توگه نه معلومېږي له ضروري اندازې واړه جوړ شوي، په کرور حرف کي داسي دي: . ، : ! " دا په داسي حال کي چې کرور حرف تر ټولو شته حروفو ښه دئ، زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي ته اړه شوم چې له عربي او فارسي نه ځيني تر ټولو ښکلي حروف غوره او پښتو ته ئې واړوم، د پښتو کرور حرف کي مي هم لاسوهنه وکړه او ځيني ستونزي مې رفعه کړې، د دغو حروفو نومونه دا دي:

Pashto best font
Pashto best font hashiah
Pashto anwan font
Pashto anwan font outline
Pashto arabic styl font
Pashto Kror modified
pashto Jadeed inwan
Pashto yasmeen font
Pashto yasmeen bold
Pashto jihon modified

موجود پښتو حروف له عربي حروفو اقتباس شوي، د پښتو خپل دوديز خط ډېر ښکلی دئ، په کار ده دغه حروف کمپيوټر ته انتقال شي. زه هڅه کوم چي د پښتو خپل حروف جوړ او کمپيوټر ته ئې انتقال کړم.

سبحان ربي العظيم

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

عنوان **صفحه**

سریزه -- ۳

د پښتو حروف ------------------------------------ ۷

د يې ګانو ستونزه -------------------------------- ۱۱

د (و) شکلونه ----------------------------------- ۱۳

د علايمو په اړه وړانديز ------------------------------ ۱۵

عربي حروف حذفول -------------------------------- ۱۶

د پښتو الف يو دئ که درې؟ -------------------------- ۱۷

عربي الفاظ --------------------------------------- ۱۹

متروک الفاظ -------------------------------------- ۱۹

له بلې ژبې ژباړه ---------------------------------- ۲۰

مجهوله يې: -- ۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځينه جمع--۲۴
د ئې او يې توپير ---۲۶
له، په، نه ---۲۶
دی او دئ--۲۶
(و) او (ؤ) --۲۷
(وه) او (وو) --۲۷
په او پر ---۲۷
باندي--۲۸
د ځ او ز ستونزه --۲۹
سته او شته --۲۹
نه او څخه ---۲۹
موږ او مونږ --۳۰
فعل کوم نوم او ضمير ته ورته راوړو -------------------------۳۰
جمله په فعل پای ته رسول -------------------------------------۳۱
د (ز)، (ج) او (ژ) په اړه اختلاف-------------------------------۳۱
د (ښ) او (ک) مخکي وروسته کول ---------------------------۳۲
د (د) او (له) ستونزه ---۳۳
د (ف) او (پ) لانجه --۳۳
د (ق) او (ک) ستونزه --۳۴
(ړ) او (گ)--۳۵
(ړ) او (ن)--۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

(کامه) او (او)--۳۶
(لېري) او (لري) --۳۶
(ولې) او (ولي) ---۳۶
(اوه) او (اووه) ---۳۷
(يولس) او (دولس)--۳۷
(نه) او (نهه)---۳۷
(ای) او (اې)--۳۸
(هغې) او (هغي) --۳۸
(پسې) او (پسي) --۳۸
(تاسي) او (تاسې) فرق ------------------------------------۳۸
(لپاره) او (له پاره)---------------------------------------۳۹
د (نه) بې ځایه کارول -------------------------------------۳۹
(اړه) او (اړوند) ---۳۹
پایله---۴۰
(پرې) او (ترې)--۴۰
(مات) او (ماتې)---۴۰
(پاته) او (پاتې) --۴۰
(خدای) او (لمونځ) ---------------------------------------۴۱
د لمونځونو اوقات ---------------------------------------۴۱
(عکس العمل) او (غبرگون) ---------------------------------۴۲
(اند) او (فکر) --۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای پامان --۴۳
لرغوني ژبه --۴۳
پښتو او کمپیوټر -- ۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو ليکدود

راشئ چي پښتو ليکنه تصحيح او معياري کړو!

حکمتيار

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library